واحد فقیری – هاری
واشنګټن، ۲۰۰۸/۱۰/۱۸م

# آیا اربکیان د خلاصون لاره ده؟

نن سبا، په امریکایي مطبوعاتو کي د افغانستان او پاکستان د پولو په اړدو کي د پښتني قومونو د مسلح کولو موضوع خورا ګرمه ده. امریکایي پوځي مشران، دیپلوماتان، مستقل او ازاد مبصرین دې نتیجې ته رسېدلي دي چي په هغه هېواد کي د سولي او ثبات د راوستلو هلي ځلي ناکامه دي. امنیت ورځ په ورځ خرابېږي. اقتصاد په ټپه ولاړ دی. مرکزي حکومت کمزوری او فاسد دی. خلک ناراضه او قهرجن دي. او لنډه داچي وضع بحراني ده. نو بنا، د افغانستان د ارامولو لپاره باید نوي سیاسي او نظامي لاري چاري ولټول سي. په بل عبارت، اوسنی ستراتیژي باید بدله سي. لمړی، د طالبانو او القاعده د ماتولو او ختمولو لپاره باید قومي اربکیان استخدام سي. د قومونو مشران سره راغونډ او منظم سي. امریکایي او اروپایي چارواکي فکر کوي چي کېدای سي د عراق تجربه په افغانستان کي هم تکراره سي. مانا دا چي په افغانستان کي هم د قومي ملېشاوو په پوځي مټ د طالبانو او ا لقاعدې نوغی وایستل سي. دوهم، د نرمو طالبانو سره خبري وسي، او هغوی په سیاسي پروسه کي داخل سي. د ګاونډو هېوادونو څخه وغوښتل سي چي د افغانستان په چارو کي لاسوهني ونه کړي. سیمه ایزه دیپلوماسي غښتلي او ګړندی سي. د مکي مکرمي غونډه د همدغو کوښښونو یو برخه ده.

په عراق کي، د سنیانو قومي ملېشیاوو چي د وېښي شورا تر مشري لاندي فعالیت کوي، په هغه هېواد کي د القاعدې د قاتلانو بېخ وایست. هلته، امریکا سني اقوام د القاعدې پرخلاف مسلح او تقویه کړل. د ځینو رپوټونو په اساس، هر جنګیالي ته د میاشتي دری سوه امریکایي ډالره معاش ورکړل کېږي. په عوض کي، سني قومي ملېشیاوو د القاعدې له جګړمارانو څخه خپلي سیمي پاکي کړې. هغوی یې مجبوره کړل چي له عراق څخه په تېښته او تاخته ووځي او افغانستان ته ورشوه سي. د عراق مثبت انکشاف دا مفکوره لا غښتلې کړه چي ښایي په افغانستان کي هم قومي اربکیان د القاعدې او طالبانو په ختمولو کي ممد او ګټور تمام سي.

دغه راز، د طالبانو سره د خبرو کولو مسله هم ډېره توده ده. اکثره امریکایي چارواکي پدې قانع سوي دي چي یوازي پوځي طاقت د حل لاره نده. په بل عبارت، د نظامي زور سره باید دیپلوماسي هم ملګری وي. د بوش د اداری ځیني مغروره او سرټمبه تیوریسنان بالاخره دېته اړ سول چي د مذاکرې خبره ومني. دا د هغوی لپاره غټه او ستراتیژیکه ماته ده. ځکه د بوش د اداري چارواکو تل د نظامي حل پلوي کوله، خو وروسته له اوو کالو ناکامیو څخه اوس هغوی دېته حاضر سوي دي چي خپله ایدیولوژیکي ماته و مني. که څه هم، اوه کاله ضایع سول، خواوس هم کېدای سي چي د مناسبو او عملي پالیسیو په زور افغانستان وژغورل سي. اوس به وګورو چي د امریکا مطبوعات پدې باب څه وایي.

د کرسچین ساینس مانیټور ورځپاڼه د اکتوبر د میاشتي پر ۱۶ باندي لیکي : امریکا غواړي چي افغاني اقوام د طالبانو پر خلاف وکاروي. همدا اوس، ځینو قومونو طالبان له خپلو سیمو څخه پسي اخیستي دي، خو لا ډېري ستونزي پاتي دي.

د حاجي ملک ظاهر ۶۰۰ قومیانو طالبان له خپلی ولسوالی څخه و ایستل. دا هغه کار دی چي د امریکا او افغانستان پوځونو دواړو نه سوای کولای. متحده ایالات غواړي چي د افغانستان نور قومونه دېته تشویق کړي چي په خپلو سیمو کي امنیت او د قانون حاکمیت ټینګ کي.

د رېنډ کارپورېشن مبصر، جونز سیت، وایي: د افغانستان حکومت د خطرونو د مخنیوي جوګه ندی. نو بنا، د اقوامو سره همکاري او کار کول ضروري دي.

ورځپاڼه لیکي: همدا پالیسي ډېر زیات خطرونه هم لري. که چیري بې احتیاطي ورسره وسي، ښایي یو ځل بیا کورنی جنګ جوړ سي. مګر هغه کارونه چي د قومونو مشران کولای سي، حکومت یې نه سي کولای.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

د ۱۹۸۰ په کلونو کي امریکا له افغانستان څخه د شورویانو د ایستلو په غرض محلي جنګیالي مسلح کړل. د شورویان د وتلو سره سم داخلي جنګونه شروع سول، او په زرهاوو بی ګناه افغانان پکي سټ سول. همدغو کورنیو جنګونو د طالبانو د بري لپاره لاره اواره کړه.

د افغانستان قومي جوړښت پیچلی او مغلق دی. که چیري پښتانه اقوام تقویه سي، ښایي تاجیک او هزاره ګان په غوسه سي. که چیري د یوه قوم سره مرسته وسي، ښایي بل قوم وډار وي. همدا وجه ده چي په واشنګټن کي موافقه سوي ده چي باید همدا کار د افغاني حکومت پلاس وسي.

مګر متحده ایالات مجبوره دي چي یوه چاره وکي. اوه کاله کیږي چي واشنګټن په افغانستان کي یو داسي حکومت تقویه کوي چي د بیلونونو ډالرو د مرستو سره سره ټپ ولاړ دی او یو ګام مخته ندی تللی. امنیت خراب سوی دی، د قانون حاکمیت نسته، او اداري فساد ټول حکومت پر سر اخیستی دی.

په واشنګټن کي، د ستراتیژیکي او بین المللي مطالعاتو د مرکز مبصر، انتوني کوردزمن، وایي: هیڅوک پدې باور نلري چي د افغان ملي پولیس به ددې جوګه سي چي امنیت ټینګ کړي. موږ مجبوره یو چي قومي اربکیان تقویه کوو.

د ننګرهار د سیمي قومي مشر، ښاغلی ظاهر ، وایي: د ننګرهار ګورنر ، ګل اغا شیرزي، را ته وویل چي د طالبانو چاره به څنګه کوو. هغه وایي: ما ګل اغا ته وویل موږ د خپلو سیمو امنیت پخپله ساتلای سو. موږ نه ټانک غواړو او نه هم توپک. سمدستي، ښاغلي ظاهر د خپل قوم ۶۰۰ تنه اربکیان راغونډ کړ. کله چي طالبان موږ په تصمیم خبر سول، سمدستي له سیمي څخه وتښتېدل.

مګر په افغانستان کي د ناټو د قواوو پخوانی قومندان، جنرال ډان مکنیل، د اربکیانو د عملي کولو مفکوره ردوي. د افغانستان په شرقي سیمو لکه ننګرهار غوندي ځایونو کي اربکیان غښتلي او موثره دي، خو په جنوب کي د مخدره موادو د قاچاقو له کبله قومي جوړښت ډیر کمزوره سوی دی، او ښایي اربکیان پکي موثر نه وي.

ځیني خلک فکر کوي چي د اقوامو مسلح کول پخپل ذات کي د جنګسالارانو تقویه کول دي.

د واشنګټن پوسټ اخبار د اکتوبر د میاشتي پر ۱۶ باندي لیکي: جنرال ډیوډ پتریس د افغانستان ، پاکستان، ایران ، عراق او دسیمي په ارتباط د متحده ایالاتو د پالیسی په اړه د یوه هر اړخیز تجدید نظر امر کړی دی. دا تجدید نظر به بله میاشت پیل سي. هغه غواړي چي دا تجدید نظر پر دوو مسلو باندي تمرکز ولري. لمړی، د طالبانو سره د حکومت د روغي جوړي خبري، او دوهم، د هغو هیوادونو لپاره دیپلوماتیکي او اقتصادي مرستي برابرول چي پدې روان اخ و ډب کي نفوذ لري.

د متحده ایالاتو پر پالیسی باندی دا نوی تجدید نظر پداسي وخت کي کیږي چي د بوش حکومت اعتراف کوي چي په افغانستان او سیمه کي حالات ورځ په ورځ خرابیږي. مګر د بوش د حکومت ځیني مامورین وایي د جنرال پتریس تجدید نظر خورا پراخه ساحه نیولي ده، حال داچي د افغانستان او پاکستان شرایط سمدستي توجه او غور غواړي.

جنرال پتریس د واشنګټن پوسټ خبریالانو ته وویل: افغانستان پراخو او اوږدو کوښښونو ته اړتیا لري. د افغانستان شرایط مخ پر خرابېدو دي. د یاغیانو پرخلاف مبارزه داښیي چي هر هیواد خپل ځانته ځانګړي شرایط لري.

د جنرال پتریس د غور په ټیم کي پاکستاني لیکوال او مبصر، احمد رشید، پاکستانی لیکوال شجاع نواز، امریکایي لیکواله، کلېر لاک هارټ، اوقریب سل تنه نور شامل دي.

د واشنګټن پوسټ ورځپانه وایي: جنرال پتریس غواړي چي د طالبانو اعتدالي غړي راجلب کړي. جنرال پتریس وایي: زه فکر کوم موږ مجبوره یو چي د دښمنانو سره خبري وکړو. څرګنده خبره ده چي هر څونه زیات مخالفان چي را جلبېدای سي باید راجلب سي. مګر باید کار د حامد کرزي د حکومت سره په ګډه وسي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

احمد رشيد وايي: د سيمي گرده هېوادونه په افغانستان کي مداخلي کوي، ځکه هغوی ويني چي د متحده ايالاتو هلي ځلي ناکامه کېږي. نو بنا، هر څوک غواړي چي خپل د ځان لپاره څه وکړي.

مگر ځيني مبصرين وايي بنايي پتريیس ددې قانوني صلاحيت ونلري چي روانه ستراتيژي بدله کړي.

د افغانستان د چارو امريکايي کارپوه، برانيټ روبين، وايي: جنرال پتريیس دد پلوماسی صلاحيت نلري.

د نيويارک ټايمز اخبار د اکتوبر پر ۱۶ باندي ليکي: د متحده ايالاتو دفاع وزير، رابرټ گېټس، وايي: که چيري غواړو چي په افغانستان کي برياللي سو، ناټو، اروپايي اتحاد، او غير دولتي موسسات مجبوره دي چي د افغان حکومت سره په گډه خپلي هلي ځلي منظمي کاندي. هغه زياته کړه موږ مجبوره يو چي په افغانستان کي پوځي او ملکي کوښښونه سره منظم کړو. ځکه زموږ امنيت ددې سيمي سره تړلی دی.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de